# څوک چې: سُبْحَانَ اللهِ العَظِيمِ وَبِحَمْدِهِ ووايي نو د هغه لپاره په جنت کې يوه د خرما ونه کښېنول شي

له جابر رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چې: سُبْحَانَ اللهِ العَظِيمِ وَبِحَمْدِهِ ووايي نو د هغه لپاره په جنت کې يوه د خرما ونه کښېنول شي».
[صحيح دی] [الترمذي روايت کړی دی]

پيغمبر صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې څوک ووايي: «سبحان الله» يعني د الله پاکي بيانوم «العظيم» هغه ذات چې په ذات، صفاتو او افعالو کې تر ټولو لوی دی، «وبحمده» يعني د هغه له ستاينې سره يو ځای، نو هر ځل چې دا جمله وايي، په جنت کې ورته يوه د خرما ونه کېښودل کېږي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4201

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee